# د تاتارستان په مرکز کازان کې د مسکو فارمت غونډه کې د ا.ا.ا. د بهرنیو چارو وزیر ښاغلي مولوي امیرخان متقي وینا

کازان، تاتارستان

۲۹ سپتمبر ۲۰۲۳




**بسم الله الرحمن الرحیم**

**حامداً و مصلیاً و بعد،**

لـه هـر څـه وړانـدې د روسـیې فدارسـیون لـه حکومـت او تاتار ستان جمهوریت نه مننه کوم چې د دې ناستې تابیا یې ونیوله او د افغانستان اسلامي امارت په استازیتوب یې موږ تـه د ګـډون بلنـه راکـړه ترڅـو د خپل هېواد په تړاو د وروستیو سیاسي، امنیتي او اقتصادي پرمختګونو په هکله د ناستې ګډونوالو سره هراړخیز بحثونه ولرو.

**درنو حاضرینو،**

دوه کاله وړانـدې د ۲۰۲۱م کـال د اکتـوبر پـر ۱۶مـه زمـوږ یـوه لـوی پلاوي داسې مهال د مسکو فارمـټ ناسـته کـې ګـډون وکـړ، چـې پـه افغانستان کې د امریکا او ناټو اشغال او پر هغوی تکیه اداره له منځه تللي وو، او د افغانستان اسلامي امارت حکومت تازه کار پیل کړی و. هغـه مهـال ځینـو لوریـو سره د راتلـونکي حکوه تداری، د حکـومتي بنسټونو احیاء خصوصاً د امنیتـي سکتور وزارتونـو بیـا فعـالولو، امنیـتي وضعیت او مخـدره مـوادو پـه تـړاو ژورې اندېښـنې او جـدي پوښـتنې مطرح وې.

خـو مـوږ د الله تعـالی پـه خـاص نصرت، د ولس پـه ملاتـړ، او پـه خپل ټینګ عزم باور درلود چې د اشغال پای ته رسېدو سره به سم موږ د یوه خپلواک، امن او ښېرازه افغانستان د بنسټ ډبره ږدو، چې الحمدالله دا کـار وشـو او پـه تقویت یې کار روان دی.

> تیـر دوه کالـه مـوږ د همـدې فارمټ او نورو ناستو او فـارمتونو پـه چوکـاټ کـې سـیمې او نـړۍ تـه د افغانستان امنیتي وضعیت په هکله اطمینان ورکړ او ژمنه مو وکړه چې د

افغانستان اسلامي امارت به د یوه مسؤول حکومت په توګه پرې نړدې چې د افغانستان له خاورې د نړۍ، سیمې او په ځانګړې توګه خپلو ګاونډیو هېوادونو ته ګواښ پیښ شي، چې دا ژمنه په ښه ډول عملي شوې ده.

په تېرو دوو کلونو کې موږ د خپل حکومت سیاسي، امنیتي او اقتصادي بنیادونو رغولو سره هممهاله د اشغالګرو په سیوري کې د روزل شویو فتنه‌ګرو ډلو پرخلاف مبارزه چټکه کړه او وتوانیدلو چې په ټول هیواد کې د داعش پټنځایونه په ډېر مسلکي ډول له منځه یو سو او د افغانستان په شمول د ټولې سیمې د امنیت پرخلاف د یوې سترې دسیسې وروستۍ هڅه هم شنډه کړو.

**درنو حاضرینو،**

په تېره شاوخوا نیمه پېړۍ کې افغانستان له ګڼو سیاسي، امنيتي، اقتصادي، ټولنیز او په ځانګړې توګه د کورني مشروعیت له بحران سره مخ و چې د ګڼو ننګونو لامل شو؛ علمي او عملي تجربو وښوده چې د بحران اصلي ریښه د کورنیو مسئلو په اړه د خارجي نسخو، ماډلونو او فرمایشونو تطبیق وو چې زموږ جغرافیه، تاریخ، فرهنګ، دیني او ټولنیز ارزښتونه په کې له پامه غورځول شوي وو.

„ زموږ د دې ادعا ښه بېلګه تېره دوه کلنه حکومتولي ده، چې له بندیزونو او د کوم جهت له مرستې او ملاتړ پرته مو جنګ ختم او ډاډمن امنیت رامنځته کړ، حکومت مو مرکزي کړ، بودیجه مو خپلواکه کړه، له هیواده مو چا ته ګواښ پیښ نه شو، مخدره موادو سره مو مؤثره مبارزه وکړه، په حکومتي او خصوصي سکتور کې مو کاري فرصتونه پراخ کړل، عدالت ته لاسرسی هرې ولسوالۍ او کلي ته وغزیده، تجارت، ټرانزیټ او پانګونې لپاره مو آسانتیاوې رامنځته کړې، د هیواد په بیلابیلو برخو کې مو د بیا رغونې پروژې پیل کړې او د ولس تر محرومې طبقې پورې مو د خدماتو رسولو کې شفافیت تضمین کړ.

دا هر څه په تېرو شلو کلونو کې په اصطلاح همه شمول رژیم د سوونو زرو بهرنیو او کورنیو عسکرو، پرمختللو وسلو، پراخ مالي ملاتړ او د سیمې او غربي هېوادونو سیاسي ملاتړ سره سره هم ترلاسه نه کړل، چې د پاشلتیا اساسي لامل یې د بهرنیو فرمایشونو د منلو په نتیجه کې د ولس په وړاندې د مشروعیت بحران رامنځ ته کېدل او په مقابل کې یې ولس را پاریدل و.

په همدې اساس مو د خپلو خلکو د دین، تاریخ، کلتور او خصوصا نژدې سیاسي واقعیتونو ته په پام کې نیولو سره د یوه دا سې حکومت بنسټ کېښود چې د ښې حکومتدارۍ ترڅنګ د دیني او ملي مشروعیت څخه برخمن وي.
هیله من یم چې د سیمې او نړۍ هیوادونه هم پر دې واقعیت د تایید مهر ولګوي ولې په تېرو ۴۵ کلونو کې د نا تعریف شوي همه شمولیت په څېر هیڅ بهرنۍ نسخې د افغانستان ستونزې نه دي حل کړې.

موږ له ټولو هېوادونو، په ځانګړې توګه له خپلو ګاونډیو او د سیمې

له هېوادونو هیله لرو، لکه څنګه چې موږ نورو ته د حکومتدارۍ د بنې په اړه نسخې نه ورانـدې کـوو، دوی دې هـم د افغانســتان د حکومتدارۍ د بڼې په تړاو د نسخې وړاندې کولو پرځای د افغانستان اسلامي امارت سره په هره برخه کې رسمي کار پیل کـړي ترڅـو دلته له یوې خوا د شریرو جهتونو لاسونه پرې شي او لـه بلـې خـوا د یـورو-آسیا سیمې، چې د نړۍ نږدې اویـا  سلنه نفـوس، اکثره شتمني او د انرژۍ درېیمه برخه سرچینې لري، له ظرفیت څخه د سیمې د ثبات او سوکالۍ لپاره ددې تـاریخي فرصـت څخـه د ټولـو پـه ګټـه اعظمي استفاده وشي.

**درنو حاضرینو،**

**په پای کې ځینو مواردو ته غواړم مشخصې اشارې ولرم:**

**لـومړی:** اوس چـې د افغانسـتان اشـغال پـای تـه رسـېدلی، امنیـت راګرځېدلی او یوه قوي سیاسي اراده موجوده ده، نو د دې وخت راغلی چې د افغانستان په محوریت د سیمه‌ییز اتصـال پـروژې تطبیـق شي. موږ د خپل اقتصادمحوره بهرني سیاست پر بنسټ د سـیمه‌ییز اتصـال لپاره...که هغه د ټرانسپورټ په بڼه او یا د انرژۍ د لېږد پـه ډول وي، چمتو یو چـې ټـولې لازمـې ا سانتیاوې برابـرې کـړو. لـه نـوو  سیاسي انکشـافاتو ورو سته، اوس تـر بـل هـر وخـت د «شـمال او جنـوب سوداګریز دهلیز» عملي کېدو تـه شرایط برابـر دي. دلتـه د رو سیې فدراسیون د لومړي وزیر ښاغلي میخائیل میشوستین له هغو څرګندونو ملاتړ کوو چې ویلي و «روسیه چمتـو ده چـې د افغانستان او جنوبي اسیا په ګډون د یـورو-آ سیا پـه  سیمه کـې د  سوداګریزو مسیرونو پـر پراختیا تمرکز ولري». د سیمې د هېوادونو لپاره هـم بایـد همـدا مهـم وي چې څنګه خپلې ګټې خوندي کړي او له فرصتونو استفاده وکړي.

**دوهم:** افغانستان د اقتصادي همکاریو، سوداګرۍ او سرمایه‌ګـذارۍ قوي ظرفیت لري او موږ له هر ډول تبعیض پرتـه د زیربنـایي پـروژو، انـرژۍ، معـادنو، زراعـت، مواصـلاتي خطوطـو او پـه ځـانګړې ډول د اوسپنې پټلۍ چې ټوله سیمه د افغانستان له لارې پـه لنډه توګـه نښـلوي، چمـتو یـو چـې لازمـې اسانتیاوې برابرې کړو.

**درېیم:** موږ ګاونـډیو هېوادونـو سره د سرحدي همکاریو په برخه کـې د قاچاقبرانو او نورو ورانکارو عنـاصرو د تګ او راتګ د مخنیوي په برخه کې خپل تیاری بیا تکراروو. د دغو ګواښونو دفع ډله‌ییزو همکـاریو تـه اړتیا لـري. مـوږ پـه دې برخـه کـې مـؤثرې هڅـې کـړې دي او پـه کوردننه مو د مخدره مـوادو کښت او قاچـاق د صـفر کولـو پـه موخه مبارزه کړې ده؛ مګر د قاچاق پـه برخه کې چې دوو اړخیزو همکـاریو ته ضرورت ده، د اړونـدو هېوادونـو همکاریو ته اړتیا لرو.

**څلــورم:** افغانسـتان د تېـرو دوو کلونو په اوږدو کـې ګنـو هېوادونـو سره، په ځانګړې توګه د سیمې لـه هېوادونـو سره د پراخـو  سیاسي او دیپلوماتیکو تعاملاتو د پیـل شـاهد و. پـه دې اړه د سـیمې هېوادونـه ډېر مخکښ و، چې مننه یې کوو!

دا د افغانستان او سیمې او نـړۍ تـرمنځ د دیپلومـاتیکو اړیکـو نـوی فصـل بولـو. د بېلګـې پـه توګـه د

چین ولسي جمهوریت د افغانستان اسلامي امارت ته له دیپلوماتیکو تشریفاتو سره سم سفیر معرفي کړ. موږ هیله‌من یو چې د چین دا اقدام نورو هېوادونو ته هم ښه مثال شي او زموږ سفیران هم ومنې ترڅو د دوو اړخیزو ګټو په نظر کې نیولو سره مؤثرې ښکېلتیا ته زمینه برابره کړي.

**پنځم:** افغانستان ته د نړۍ له بېلابېلو هیوادو سیلانیان، دیپلو ماتان، مرستندویان، خبریالان او څیړونکي په ډاډه زړه راځي او په ټول هیواد کي ازاد ګرزي. بناء موږ یو ځل بیا اعلان کوو هر څوک چي له افغانستان څخه د امنیت او یا هم مخدره موادو په اړه تشویش لري د مغرضو کړیو د تبلیغاتو د اوریدو او د همدې غرضي تبلیغاتو په استناد او بنیاد د عکس العمل ښودوو پر ځای دي خپله افغانستان ته راشي، هیئتونه دي راولیږي او هر څه دي له نږدې په خپلو سترګو ووینې تر څو یې تشویش رفع او اطمنان حاصل شي.

په پای کې د روسیې فدراسیون د دې ابتکار له امله د مننې ترڅنګ یو ځل بیا ګاونډیو او د سیمې هېوادونو باندې غږ کوم چې افغانستان د مشترکو مشروعو ګټو پر بنسټ ټولو سره مثبت تعامل ته چمتو دی او هیله‌من یو چې له دې فرصت څخه ټول هېوادونه د خپلو ملي ګټو په پام کې نیولو سره استفاده و کړي.

له توجه مو مننه ښه وختونه ولرئ.